مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۳/۰۳/۲۰

# وهابیان څوک دي؟

لسمه برخه

## وهابیان او اخوان المسلمین په افغانستان کې:

افغانستان، په خپل اوږده تاریخ کې، د خپل سیاسی، جغرافیایی او ستراتیژیک موقعیت له امله، کله د لویوفاتحانو د آسونو تر پښولاندي پایمال سوی، کله یې د حایلي سیمې حالت غوره کړی؛ کله مستعمره کله نیم مستعمره او کله آزاد اوسېدلی او تر دغه ځایه را رسېدلی دی. په عمومي توګه ویلای سو چي تاریخ یې، له لومړي سره تر اوسه پوري، د بدمرغیو او تراژیدیو اوږد او نه ختمېدونکی داستان دی. همدغه حالت د نړۍ د تمدن له کاروان څخه ګوښه ساتلی دی. اکثریت خلک یې کوچي، کلیوال او کروندګر پاته سوي دي. عوام یې د سواد له نعمت څخه محروم دي او دغه علت دی چي چنداني یې په فکري نهضتونو کي برخه نه ده درلودلې. افغانستان ته که چیې فکر راغلی دی هم یوازي د منورینو په محدودو حلقو کي پاته سوی او که څوک له نویو مذهبي افکارو او اصلاحي پروګرامونو سره ورته راغلي دي نو هم یې د نفوذ ساحه تر منورینو دباندي نه ده وتلې.

که د ۱۹۶۰ د لسیزې په لومړیو کلونو کې د افغانستان اجتماعی شرایط په نظر کې ونیسو نو ګورو چي له ۷۵ څخه تر ۸۰ فیصده پوري خلکو په کلیو کې ژوند کاوه او د سواد اندازه هم تر ۵ فیصده نه زیاتېده. خلکو یوازي د خان او مُلا او خپلو سپین ږیرو پر خبرو غوږ نیوی او د چپي او مذهبي سیاسي عناصرو تبلیغات یې درک کولای نه سوای. سیاسي چپي او مذهبي ګوندونو هیڅ وخت په ټولنه کي نفوذ ونه کړ اوداسي ریښې یې ونه ځغلولې چي د ریښتونو نهضتونو شکل دي واخلي. د مشروطه غوښتونکو، ویښ زلمیانو، حزب وطن، ندای خلق او نورو وړو ګوندونو او ډلو هیڅ اثر پاته نه سو. موږ شاهدان یو چي په افغانستان کي د خلق، پرچم ګوندونه د قدرت له لاسه ورکولو سره تقریباً له منځه ولاړل او بیا یې درک معلوم نه سو. په همدغه توګه حزب اسلامي پر ډېرو زیاتو ټوټو ووېشل سو او اوس یوازي د هغه ګوند د مشر ګلبدین حکمتیار پر شاوخوا یوه حلقه پاته ده. د وهابیانو خو بیخي سړی پوښتنه نه سي کولای. خو موږ ګورو چي په مقابل کي طالبان د امریکا او ناټو د شل کلنو مهلکو حملو او بمباریو څخه وروسته بیا هم ژوندي پاته سول او بالاخره یې د کابل حکومت ته سقوط ورکړ. یو عامل یې دا وو چي د طالبانو تبلیغات د کلیوالي خلکو له ذهنیت سره برابر او پروګرام یې د اکثریت بېسواده اولس پر زړونو جوړ دی. د طالبانو پروګرامونه د ښاري ژوند د معیارونو په اساس د تمدن او بشري حقوقو پر ضد دي مګر د کلیوالي معیارونو سره برابر دي او له اطرافي خلکو سره تقریباً هیڅ ستونزه نه لري.

اخوان المسلمین، چي په مصر کي منځته راغلی عقیده او تحریک وو، تر ډېره وخته یوازي د کابل د شرعیاتو د پوهنځي د هغو استادانو تر منځ پاته سوه چي د مصر د الازهر په پوهنتون کي یې درس ویلی او دغه مفکوره یې وطن ته ورسره راوړې وه. د افغانستان ملایان، چي ټول حنفی مذهبه وه، د هیڅ ډول نوي اسلامي مفکورې منلو ته تیار نه ول؛ او عوامو هم، د خپلو ملایانو په پیروی، هره نوي مفکوره بدعت او ناروا بلله. د افغانستان عوامو تر هر څه زیات خپلو ژوندیو پیرانو او د هغوی د پلرونو زیارتونو ته عقیده درلوده او دغه علت دی چي له زیارتونو منکرو وهابیانو ته یې د کافرانو په سترګه کتل. د اخوان المسلین مفکوره، چي لا سیاسي اهداف یې هم لرل، د عوامو لپاره دونه نوې وه چي چنداني یې په هدف هم نه پوهېدل. د اخوان المسلمین او وهابیانو دا یو شعار، چي اسلام په خطر کي دی، سره مشترک وو. عوامو او د هغوی عنعنوي ملایانو ځکه دا خطر نه احساساوه چي د هغوی له مذهبي مراسمو، جوماتونو او لمونځونو سره چا غرض نه وو کړی.

له وهابیانو څخه یې ځکه ښه نه راتلل او ځکه یې د کافر په سترګه ورته کتل چي هغوی له پیر، مرشد او په تېره بیا زیارتونو سره مخالفت کاوه او زیارتونو ته تلل او د زیارتونو په نامه نذرونه کول یې شِرک او کفر باله. په داسي حال کي چي د افغانستان تقریباً ټول اوسېدونکي، په تېره بیا پښتانه د خپل باباولي، دُربابا، شاه آغا او په مزارشریف کي د علي د خیالي او تش په نامه زیارت دومره قدرکوي چي له کعبې او مدینې سره به یې لږ توپیر موجود وي. د افغانستان په زرګونو کلیو کي به لږ داسي کلی موجود وي چي هلته د کوم بابا او یا شیخ زیارت نه وي او په جنډې پوري یې بې شمېره سره او زرغونه ټوکران او ربنکی نه ځړیږي. دا یوازي افغانستان نه دی بلکه ایران، پاکستان،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

هند او نور اسلامي هيوادونه هم تر دې بهتر حال نه لري. ما لږه موده مخکي له يوه لوی ايراني ملا څخه واورېده چي ويل يې د امام رضا زيارت د اوو حجونو مرتبه لري. هغه کسان چي د امير خسرو دهلوي قبر ته سجده کوي او د شيخ قلندر پر قبر باندي اووه طوافه کوي هغوی به څرنګه د وهابي عقايدو اورېدلو او منلو ته حاضر سي. په داسي حال کي چي د هغوی په مقابل کي لا صوفيه او د پاکستان برېلويان هم موجود وي چي شيخان او اولياءالله د خدايي مقام ته رسوي.

په هرصورت، د اخوان المسلمين او د وهابيانو عقايد دواړه د افغانانو لپاره نوي او، د چپی عقايدو په څېر، له بهر څخه وارد سوي عقايد وه. وهابي عقايد يې ځکه نه سوای منلای چي د ټولو عنعنوي رسم او رواج سره يې مخالف وه او اخوان المسلمين ته يې ځکه د شک او ترديد په سترګه کتل چي هغوی اسلام ته سياسی رنګ ورکاوه. پټ فعاليتونه يې کول او وروستنی هدف يې د قدرت نيول ټاکلي وه. د هغوی ټول تبليغات د خلکو لپاره نوي وه. دا لومړی ځل وو چي هغوی د دين د ساتلو لپاره د حکومت د چپه کېدلو خبره اورېده او له خلکو يې اورېده چي د اسلام په نوم يې موجود شاهي نظام غيرعادلانه او ظالمانه باله. او که چيري په افغانستان کي کمونيسټانو کودتا نه وای کړې او په مقابل کي يې خلکو مقاومت او بالآخره جهاد پيل کړی نه وای ښايی اخوان المسلمين هيڅ وخت په خلکو کي ريښې نه وای ځغلولي.

په افغانستان، په تېره بيا د پوهنتون په ساحه کي د اخوان المسلمين د مفکورې د پلي کولو لپاره د سياسي فعاليتونو اساس غلام محمدنيازي کښېښود. نيازي چي، د ابوحنيفه د ديني علومو ښوونځي څخه فارغ سوی او د مصر د الازهر په مدرسه کي يې تحصيل کړی وو، کابل ته له ستنېدلو سره په ۱۳۳۶ يا ۱۹۵۷ کال کي د جوانان مسلمان په نوم يوې وړې حلقې اساس کښېښود. په دې وړه حلقه کي د هغه وخت اسلامی منورينو، چي مخکي يې هم د جمعيت اسلامی افغانستان په نوم يوه ډله درلوده، برخه واخيستله. په دې کسانو کي استادموسی توانا، سيد احمدترجمان، استاد محمدفاضل او عبدالعزيز فروغ برخه درلوده. دغه راز استاد وفی الله سميعی، عبدالاحد عشرتی، برهان الدين ربانی، عبدالهادی هدايت او په وروسته کي عبدالرسول سياف، غلام ربانی عطيش، عبدالرحيم نيازی، محمداسحق بزرګ او ګلبدين حکمتيار، محمدامين وقاد او دين محمدګران برخه ورسره واخيستله.

د دې ډلي سياسی فعاليتونه تر ۱۹۶۶ او ۱۹۶۸ کلونو پوري ډېر محسوس نه وه او د خپل بنسټ ايښودونکي غلام محمدنيازي له توصيو سره سم يې پټ فعاليتونه کول خو کله چي چپی ګوندونو خلقيانو، پرچميانو، شعله جاويد او نورو وړو او لويو ګوندونو د کابل په پوهنتون، د ننګرهار پوهنتون، د ولاياتو په ښوونځيو او فابريکو کي اعتصابونه، مظاهرې او سياسي فعاليتونه پيل کړل نو دوی هم خپلو فعاليتونو ته، چي زياتره به يې له چپي عناصرو سره د نښتو شکل واخيست، زور ورکړ. کله چي د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په مياشت کي کمونيسټانو کودتا وکړه نو تقريباً ټول هغه کسان يې بنديان او وروسته ووژل چي له دوی سره يې د پوهنتونو او ښوونځيو په مظاهرو کي نښتي کړي وې. په دې کسانو کي پخپله غلام محمدنيازی او د هغه نيژدې ملګري هم شامل ول.

ګلبدين حکمتيار، مولوی خالص، برهان الدين ربانی او ځيني نورکسان، د داوود خان د پنځه کلن جمهوريت ۱۳۵۲-۱۳۵۷ په وخت کي پاکستان ته تښتېدلي او هلته يې د پاکستان له مقاماتو سره تماسونه ټينګ کړي ول. حکمتيار، چي د کابل په پوهنتون کي د اخوان المسلمين او د شعله جاويد د ګوند تر منځ په نښته کي د شعله يانو د يوه نطاق سيدال سخندان په وژلو تورن وو، د ظاهرشاه د پاچهی په وروستيو کلونو کي پاکستان ته تښتېدلی او له ټولو مخکي يې د پاکستان له پوځي استخباراتو آی ايس ای I.S.I سره تماسونه ټينګ کړي وه. او د خلقيانو له کودتا څخه مخکي يې په ۱۹۷۶ کال کي د جماعت اسلامي په مرسته د پاکستان له پوځي استخباراتو څخه د خپلو ملګرو د نظامي تربيې او د هغوی د خرڅ خوراک لپاره مرستي ترلاسه کولې. د حکمتيار ملګري، په افغانستان کي د هغوی د فعاليتونو لپاره د شرايطو د سختېدلو له امله پاکستان ته تښتېدل او هلته د آی ايس آی له خوا تربيه کېدل او تمويلېدل. حکمتيار وروسته خپل درې زومان او وراره خپل تر ټولو نيژدې سلاکاران وټاکل او هغه کسان يې له نيژدې څارل چي د ده ګوند حزب اسلامي ته داخلېدل. حکمتيار خپل حزب د لينين د ګوند په څېر پر تينګ مرکزيت باندي جوړ کړ او د حزب د ټولو چارو واک يې په خپل لاس کي متمرکز کړ. Thomson, The Wars of Afghanistan P 252

د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په مياشت کي د خلقيانو او پرچميانو له کودتا څخه لږ وروسته خلکو د هغوی د بې وخته، نامعقولو او د مذهب پر ضد صادرو سويو فرمانونو او ظلمونو او وحشت په مقابل کي مقاومتونه پيل کړل او د مقاومت په مقابل کي د خلقيانو حکومت پر کليو او بانډو باندي د توپونو ډزي او الوتکو بمباری پيل کړې او په لکونو او ميليونونو خلک يې پاکستان او ايران ته په مهاجرت کولو مجبور کړل. د خلقيانو په مقابل کي جهاد پيل سو. اسلامي هيوادونو او غربي نړۍ توجه ورته وکړه او جهاد د اخوان المسلمين د ژوندي پاته کېدلو او ودي کولو سبب سو؛ کنه ښايی په هغه پاکستان کي يا له منځه تللی او يا په افغانستان کي د ورانکاريو لپاره د پاکستان د پوځي او جاسوسي شبکو د يوې موثري وسيلي په توګه پاته سوی وای.

## حکمتيار او د هغه حزب اسلامي:

ګلبدين حکمتيار له خپلو ټولو ملګرو څخه مخکي پاکستان ته ولاړ او له لومړيو ورځو يې د هغه هيواد له مذهبي ګوندونو، په تېره بيا د جماعت اسلامی د مشر قاضي حسين احمد سره تماسونه ټينګ کړل او ښايی د هغه په وسيله يې د پاکستان له پوځ او حکومت سره تماسونه نيولي او ټينګ کړي وي. البته د مجاهدينو لپاره د امريکا خاص


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

استازی پیټر ټامسن لیکي چي ده ته په ۱۹۸۹ کال کي په استرالیا کي د پاکستان ټاکل سوي سفیر بشیربابر وویل چي حکمتیار د ۱۹۷۰ د لسیزی د لومړیو کلونو څخه د پاکستان له آی ایس آی څخه تنخوا اخیستله. Tomson, The Wars of Afghanistan P 102

کله چي برهان الدین ربانی په ۱۹۷۴ کال کي پېښورته ولاړ لږه موده وروسته یې له حکمتیار سره د داوود خان د جمهوریت په مقابل کي د حرکت کولو پرسر اختلاف راغی. حکمتیار د حکومت په مقابل کي د وسله وال پاڅون د پیل کولو طرفدار وو او رباني ویل چي تر یوه وخته باید صبر وسي؛ په خلکو، حکومتي مقاماتو او پوځ کي نفوذ ترلاسه سي او بیا پاڅون ته زمینه برابره سي.

د پاکستان جمهوررئیس ذوالفقار علی بهټو، چي د داوود خان حکومت ته د ستونزو د ایجادولو مفکوره تر هرڅه ورته په زړه پوري وه، د حکمتیار د پلان تر شا ودرېدی او د رباني او حکمتیار ترمنځ انشعاب راغی. حکمتیار په خپل پلان کي بریالی سو. د ۱۹۷۵ کال د جولای د میاشتي څخه باید وسله وال حرکت پیل سوی وای. احمدشاه مسعود په پنجشیر، مولوی حبیب الرحمن په لغمان، ډاکټرعمر په بدخشان، سیف الدین نصرت یار په هرات او حکمتیار باید په پکتیا کي حرکت پیل کړی وای. حکتمیار اصلاً هیڅ حرکت ونه کړ. سیف الدین نصرت یار هرات ته له رسېدلو څخه مخکي ونیول سو او د خلقیانو په وخت کي اعدام سو. په ټولو ټاکل سویو سیمو کي حرکت سخت وځپل سو. په سل هاوو ځوانان او څه کم شل تنه دیني علماء ونیول سول او ورک سول او یا سمدستي اعدام سول. Roy, Islamic Resistance P 75

حکمتیار دوې ګټي وکړې. یو خو یې د جمهوررئیس بهټو له خوښي سره سم حرکت وکړ او له هغه څخه وروسته د پاکستان د حکومت او پوځ نازولی سو او بل یې د نصرتیار، مولوي حبیب الرحمن او انجنیر حبیب الرحمن په څېر ځوانان، چي ښایی په آینده کي یې، په حزب کي دننه، د ده قدرت ته خطر پېښ کړی وای له مخه لیري کړل. حکمتیار په هغه وسله وال حرکت کي هیڅ برخه وانه خیستله خو افتخار یې ټول خپل کړ.

جنرال یوسف، چي د پاکستان د پوځي استخباراتو په اداره کي د افغانستان د چارو مسوول او له حکمتیار سره یې له نیژدې اړیکي درلودل وایی چي حکتمیار یو سوړ، بېرحمه او موثر مشر وو. هغه هیڅ وخت مخالفت نه زغمی او د خپلو مخالفینو د سمدستي وژلو حکم یې کاوه. دی وایی هغه په پېښور او د مهاجرو په کمپونو کي یو قوي او مرکزي سازمان منځته راووړ. یوسف وایی موږ پر هغه باندي ځکه په پټو سترګو اعتماد کاوه چي هر ډول وسلي مو ورکولي هغه نه بېځایه کېدلي او په بازارونو کي نه خرڅېدلي. حکمتیار له هر چا څخه د وسلو حساب اخیستی او له متخلفینو سره یې ډېر بېرحمانه سلوک کاوه. جنرال یوسف ویل یو ځل چي څوک د حکمتیار ګوند ته ورسي بیا له هغه څخه وتل ډېر ګران کار دی. Coll, Ghost Wars. P117

حکمتیار هر څه د قدرت نیولو لپاره کول. د هغه لپاره دا مهمه نه وه چي هدف ته د رسېدلو لپاره څوک وژني بلکه هر هغه څوک یې له منځه ووړ چي د ده د پلان په مخ کي خنډ کېدی او یا یې په آینده کي د خنډ کېدلو احتمال موجود وو. حکمتیار باید خپل دښمنان تباه کړي وای چه دې دښمنانو کي یوازي کمونیستان او د شوروي اتحاد اشغالګر عسکر شامل نه وه بلکه د مجاهدینو قوماندانان هم شامل ول. ... حکمتیار د احمدشاه مسعود پر قواوو او نورو مجاهدینو باندي دونه زیاتي حملي وکړې چي په واشنګټن کي استخباراتي څېړونکو یو وخت وویل چي هغه ښایی د کي جي بي خفیه جاسوس وي او پاکستان ته یې د دغه لپاره رالېږلی وي چي د شوروي پر ضد د مقاومت پلانونه شنډ کړي. Ibid, p 120

ډرې فس لیکي چي که متحده ایالاتو غوښتي وای چي د افغانستان د جنګ له ختمېد لو څخه وروسته قدرت اعتدال خوښوونکو ته وسپاري په وس به یې ځکه پوره نه وای چي هغوی ټول وژل سوي ول او په میدان کي څوک پاته نه وه. هغو اسلامیستو مجاهدینو چي د شوروي اتحاد سره یې جګړه کوله په زرهاوو هغه کسان هم له منځه وړي ول چي کمونیستان نه وه. د خلیل زاد مېرمني Cheryl Benard چي د رینډ په تحقیقاتي موسسه کي د سیاسي اسلام متخصصه ده په یوې مرکي ویلي وه« په لومړي سر کي هر یوه فکر کاوه چي د شوروي اتحاد ماتول غیر ممکن دي. نو موږ د هغوی په مقابل کي هغه تر ټولو خطرناک لېونیان تقویه کړل او موږ پوهېدلو چي له دې کار سره نور تاوانونه هم تړلي دي. موږ پوره پوهېدلو چي دا کسان چي موږ یې تقویه کوو څوک دي او دوی څه ډول تنظیم ته منسوب دي او څه ډول کار کوي. خو موږ په دې موضوع کي هیڅ ری نه واهه. موږ هغوی ته اجازه ورکړه چي د افغانستان ټول اعتدال خوښوونکي مشران قتل کړي. دوی چېپیان قتل کړل، دوی اعتدال خوښوونکي مشران قتل کړل او نور یې هم چي په لاس ورتلل هغوی یې قتلول. دا کسان هم د ۱۹۸۰ په لسیزه او هم له هغه څخه وروسته له منځه یوړل سول» Dreyfuss, Devil's Game p 291

## ډاکتربهاءالدین مجروح:

د افغانستان د جهاد په کلونو او وروسته کلونو کي ښایی د افغانستان تر ټولو لویه علمي ضایعه وي. ډاکټرمجروح، چي هم فیلسوف او هم شاعر وو، د جهاد په کلونو کي د سیاست او ژورنالیزم میدان ته ور ګډ سو او په دواړو کي تر هر چا ښه وځلېدی. ډاکټرمجروح د افغانستان د کشالي لپاره تر نظامي حل، چي هرچاته، د مجاهدینو د ژورو اختلافاتو له امله، غیر ممکن ښکارېدي، د سیاسي حل طرفدار وو او په دې عقیده وو چي یوازیني سړی چي ملت وربا ندي را ټولېدلای سي او کېدای سي چي، که د تل لپاره نه وي، د یوه موقتي وخت لپاره د سیاسي ثبات عامل سي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هغه به پخواني پاچا محمدظاهرشاه وي. د هغه دا نظر هم د پاکستان د آی ایس آی او هم د ګلبدین حکمتیار او هم د سیاف او وهابیانو له نظر سره مخالف وو او هر یوه کوښښ کاوه چي دغه خطرناک حریف له منځه یوسي. مجروح په ۱۹۸۷ کال کي یوه خطرناک سیاسي اقدام ته لاس واچاوه چي بالآخره د هغه د قتلېدلو سبب سو.
د هغه د افغان اطلاعاتي مرکز Afghan Information Center د ۱۹۸۷ کال د جنوري له میاشتي څخه د هماغه کال د جولای تر میاشتي پوري په پاکستان کي د مهاجرینو د کمپونو له اوسېدونکو افغانانو څخه څلور ډیري څرګندي پوښتني وکړې او د هغوی جوابونه یې خپاره کړل. دې احصایې په پاکستان کي د ټولو ګوندونو، په تېره بیا د حکمتیارد حزب اسلامي، حیثیت ته، چي هر وخت یې د انتخاباتو غوښتنه کوله، سخته صدمه ورسوله. سوالونه ډېر واضح وه:

۱: ایا ته غواړې چي بیرته افغانستان ته ستون سي او که ستنېږې نو په کومو شرایطو؟
۲: ته د کابل د رژیم له خوا پیشنهاد سوی اوربند مني که نه؟
۳: ته د ډاکټر نجیب له خوا د ملي روغي جوړي او پخلاییني وړاندیز مني کنه؟
۴: څوک غواړې چي د افغانستان ملي رهبر سي؟

دا پوښتني د مهاجرینو په کمپونو کي په داسي توګه ترتیب سوي وې چي د افغانستان د ټولو ولایاتو اوسېدونکي او توکمونه پکښی شامل کړل سوي وه.
دریو لومړیو پوښتنو ته ټولو خلکو یو شان جواب ورکړی وو. ټولو ویل چي دوی غواړي افغانستان ته ستانه سي؛ خو په دې شرط چي نه د شوروي پوځونه وي او نه کمونیست حکومت قدرت ولري. ټولو د کابل د رژیم له خوا وړاندي سوی اوربند او د ملي روغي جوړي د پخلاییني پروګرام رد کړی وو. هیڅ چا په دې کي بله خبره نه وه کړې.
څلورم سوال چي، د ملي رهبر د ټاکلو په باره کي وو، خلکو داسي جواب کړی وو:
په سلو کي ۷۱ عشاریه ۶۵ کسانو ویلي وه چي دوی غواړي د هیواد چاري پخواني پاچا ظاهرشاه ته وسپارلي سي. په سلو کي ۱۲ عشاریه ۵۰ ویلي وه چي دوی د خالص اسلامي نظام غوښتونکي دي. په سلو کي ۱۰ عشاریه ۳۰ ویلي وه چي دوی غواړي قدرت یوه افغان او مسلمان ته وسپارل سي. په سلو کي ۱عشاریه ۷۵ ویلي وه چي قدرت دي د مجاهدینو یوه قوماندان لکه عبدالحق، فرید، حقانی ته وسپارل سي. په سلو کي صفر عشاریه ۴۵ ویلي وه چي قدرت دي پیر ګیلانی، مولوي نبي، پروفیسر رباني او حکمتیار ته په ګډه وسپارل سي. او ۳عشاریه ۳۵ کسانو هیڅ جواب نه وو ویلی.
که څه هم چي، د خلیل زاد د مېرمني په قول، د مجاهدینو مشرانو پخوا لا د مجروح په څېر مشرانو د قتلولو جواز تر لاسه کړی وو او ښایی له ډېره وخته د آی ایس آی او د هغوی د قصاب حکمتیار په نقشه کي شامل وو؛ خو عمومي عقیده پر دې ده چي دا وروستۍ احصاییه د هغه د قتلېدلو اساسي عامل سو. د حکمتیار سړیو هغه یو ماښام، چي له یوه برتانوي مېلمه سره یې په خپل کورکي د لیدلو وعده درلوده وویشت او ځای پر ځای یې شهید کړ. د حکمتیار له خوا د خلکو قتلونه او بېرحمی دونه ډیري سوي او دومره د هرچا تر غوږونو ورسېدلي چی د مجاهدینو د مشرانو په یوه مجلس کي صبغت ا الله مجددي هغه ته وویل چي « ته یوه توره بلا او د افغانستان دښمن یې. ته داسي انسان یې چي هیڅ هغه څوک به ستا ملاتړ ونه کړي چي د خپل هیواد د حیثیت درناوی کوي» Loyn, In Afghanistan P 163
حکمتیار، چي ویل کیږي د بندیانو په ژوندي پوستولو کي یې مهارت درلود Dreyfuss, P267 په دونه جنایاتو تورن سو چي حتی بالآخره په آی ایس آی کي د هغه نیژدې ملګری جنرال حمید ګل هم په دې عقیده وو چي « حکمتیار به هیڅ وخت پر افغانستان باندي حکومت ونه کړای سي. افغانان له هغه څخه نفرت لري. حتی که آی ایس آی هغه قدرت ته ورسوي هم به بیرته وپرزول سي» Tomson, The Wars of Afghanistan P 295
د حکمتیار د ټولو جنایاتو او انسان وژنو په باره کي زیات تفصیل موږ له موضوع څخه لیري کوي خو سي آی اې دا ټول جنایات لیدل او بیا یې هم سترګي ورباندي پټولي او حتی د هغه عملیات یې ستایل. د سي ای اې یوه مامور، د حکتمیار څخه د امریکا د ملاتړ په برخه کي، خپل فرانسوي سیال ته وویل « ګلبدین هغومره بد نه دی چي تاسي وېره ورڅخه لرئ او مسعود هم هغومره ښه نه دی چي تاسي هیلي ورپوري تړلي دي» Coll,P 151
سی آی اې ته د حکمتیار د جنایاتو پوره معلومات حاصل وه. د ۱۹۸۰ د لسیزی تر وروستیو کلونو پوري آی ایس آی ټول آزاد خیاله منورین، چېپیان او د پاچا طرفدار سیاسي ګوندونه، چي د کمونیستانو له راتګ سره یې په پېښور کي فعالیتونه پیل کړي وه له منځه وړي وه.... خو د مجاهدینو د چارو لپاره د امریکا یوه استازي په پېښور کي د آی ایس آی یوه مامور ته وویل« زموږ هدف د روسانو وژل دي. حکمتیار روسان وژلي دي. د افغانستان پاچا په روم کي خپل آرام ژوند تېروي او په ژوند کي یې یو روسی نه دی وژلی. سی آی اې نه غواړي د جهاد رهبري د پاچا په څېر یوه داسي چاته ورکړي چي هیڅ نه ورڅخه جوړیږي» Ibid 165-166
د افغانستان د جهاد نتیجه د امریکا او پاکستان له غوښتني او آرزو سره سمه وه. روسان له افغانستان څخه ووتل او امریکا یوازي همدغه غوښتل. د افغانستان ټول هغه منورین چي د هیواد لپاره به یې یو څه کولای سوای یا حکمتیار وژلي او یا له سیمي څخه وتلي او په غرب کي پراته ول. میدان مسلکي جنایتکارانو ته پاته سو او په څلورکلن داخلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جنګ کي يې هغه جنايات وکړل او هغه تباهی يې ورسولې چي د افغانستان په تاريخ کي يې تر هغه وخته ساری نه وو ليدل سوی. امريکا، چي د جنګ د اور بلولو اصلي لګښتونه يې پر غاړه اخيستي وه، د روسانو له وتلو وروسته، د خير پر غونډۍ کښېنستله. حتی مشر جمهوريس بوش فکر کاوه چي له افغانستان څخه د روسانو د وتلو او د داکتر نجيب الله د رژيم له نسکورېدلو سره هر څه پای ته رسېدلي دي. « د سي آی اې يوه عالي رتبه مامور، په ۱۹۹۲ کال کي، چي په افغانستان، په تېره بيا کابل کي، داخلي جنګ روان وو مشر جمهوررئيس بوش ته د افغانستان په باره کي رپوټ ورکاوه او هغه حيران سو چي لا اوس هم سي ای اې، د افغانستان د مجاهدينو لپاره پاکستان ته پټي مرستي لیږي. دغه مامور وايی جمهوررئيس بوش دې ته حيران سو چي افغانان لا اوس هم جنګيږي. هغه زما څخه پوښتنه وکړه چي Is that thing still going on? هغه شی لا اوس هم روان دی؟ » Ibid 228

جمهوررئيس بوش د افغانستان تباه کوونکي داخلي جنګ ته، چي دوی د خپلو پاليسيو او په سيمه کي د ګټو د ساتلو په اثر پيل کړی وو، دومره په سپکه ګوري چي « هغه شی» يې بولي. امريکا چي په افغانستان کي د دې ټولو وروستيو تباهيو د منځته راتللو او د افغانانو ترمنځ د جنګ اورته د تېلو د شيندلو مسووليت درلود نور يې ځکه علاقه نه درلوده چي خپلي پيسې يې بايد د يوه بل اور په لګولو کي مصرف کړي وای.

ستيو کول په خپل يوه بل کتاب کي د کابل د جنګونو په باره کي ليکي چي په کابل کي مي د مجاهدينو د حکومت په لومړۍ ورځ له يوه تن مجاهد سره، چي د کابل د باغ وحش سره ولاړ وو وليدل. هغه راته وويل هر څوک چي زما سره خبري کوي بايد چي لس فوټه ليري را څخه ودريږي ځکه چي ښايي يو څوک د دوست په نامه را نيژدې سي او يو ناڅاپه زما ماشيندار را څخه واخلي. کول ليکي:

« هغه مجاهد حق په جانب وو. په هغه شپه په کابل کي د مجاهدينو ترمنځ له سره جنګونه پيل سول. په دې جنګونو کي ډېر ژر د کابل ښار وران سو او په زرګونو بېګناه انسانان پکښی قتل سول او افغانستان يې نور هم د نېستۍ او له نړۍ څخه د ګوښه کېدلو خواته ټېل واهه. امريکا دا وخت په ساړه جنګ کي د بري په نشه کي ډوبه وه. په سياسي جغرافيه کي تغييرات راغلي وه او جرمنی بيرته سره متحد سوی وو؛ او نور يې په افغانستان کي ری نه واهه» Coll, Directorate P 3

البته دا جنګ د هغو مجاهدينو ترمنځ روان وو او د کابل ښار هغو مجاهدينو تباه کاوه چي امريکا شاوخوا لس کلونه هغوی ته تنخواوی ورکولې او اوس يې هېر کړي او د امريکا جمهوررئيس، چي د دغه اور په بلولو او تازه کولو کی يې عمده رول اوس دهغوی ترمنځ جنګونه او تباهي « هغه شی» باله. امريکا، د جهاد په جريان کي، له آی ايس آی څخه په پټه، ځيني قوماندانان استخدامول او د هغوی وظيفه د وسلو د توزيع کېدلو او څرنګه والي معلومول، د پاکستاني مامورينو د فساد او رشوتونو په باره کي اطلاعات ورکول او د جنګ په ميدانونو کي د پرمختګ په باره کي معلومات را غونډول وه. امريکا عادي قوماندانانو ته د مياشتي له ۲۰ څخه تر ۲۵ زره ډالرو او تر هغوی يو څه لويو او قوي قوماندانانو ته د مياشتي ۵۰ زره او هغو قوماندانانو ته چي د پوځي زور او اهميت تر څنګ يې قومي نفوذ هم درلود د مياشتي تر ۱۰۰ زرو ډالرو پوري ورکول. Coll, Ghost War P151

کله چي د حکمتيار او احمدشاه مسعود تر منځ اختلافاتو زور واخيست او آی ايس آی پر احمدشاه مسعود باندي وسلې او مهمات بند کړل نو سي آی اې هغه ته خپلي مرستي زياتي کړې او د پاکستان په پټه يې احمدشاه مسعود ته د مياشتي ۲۰۰ زره ډالره ورکول.Ibid, P190

د امريکا جمهوررئيس حق درلود چي د افغانستان د جنګ اندېښنه له خپله مغزه وباسي او نور ری پکښي ونه وهي. په افغانستان کي شوروي لښکرو شرموونکې ماته خوړلې او نور په هغه هيواد کي د سترو قدرتونو ترمنځ جګړه او رقابت ختم سوی وو. په نړۍ کي د بوسنيا موضوع توده وه او ټوله توجه هغې خواته اوښتې وه. د ملګرو ملتونو د امنيت په شوراکي د افغانستان موضوع ايله په ۱۹۹۶ کال کي، د طالبانو د قدرت ته رسېدلو څخه وروسته مطرح سوه. Loyn, In Afghanistan P173

رابرټ ډرېفس په خپل کتاب کي ليکي: د امريکا د جمهوررئيس جيمي کارټر امنيتي سلاکار زبيګنيو بريژينسکي په يوه مرکه کي دا ومنله چي د ده نيت، له لومړي سره، دا وو چي شوروي اتحاد پر افغانستان باندي يرغل کولو ته وهڅوي. دی وايی کله چي شوروي اتحاد پر افغانستان باندي حمله وکړه نو د متحده ايالاتو مقامات هک پک سول. موږ شوروي اتحاد دغه يرغل ته ټېل وهلی نه وو مګر په لوی لاس مو داسي وضع ورته برابره کړه چي د هغوی د يرغل کولو احتمال زيات کړو. کله چي د بريژينسکي څخه پوښتنه وسوه اوس حاضر په افغانستان کي د توندرو مسلمانانو قدرت اخيستلو له امله د هغوی پر ملاتړ کولو پښېمانه نه دی؟ ده وويل:

« د نړۍ تاريخ ته څشي ډېر مهم دی؟ طالبان او که د شوروي امپراطوری سقوط؟ يو څو پارېدلي مسلمانان او که د مرکزي اروپا آزادي او د ساړه جنګ ختمېدل؟ »

بريژينسکی په ۱۹۷۹ کال کي کارټر ته وويل چي اوس به موږ شوروي اتحاد ته د ويټنام د جنګ جواب ورکړو. Dreyfuss. Devil's Game P165

د بريژينسکي د دې څو لنډو او سپينو جملو څخه د افغانستان د ټول جنګ او د امريکا او لويو قدرتونو د علاقې او تر مطلبه يارانې ټول حقيقت له ورايه څرګنديږي.

پاته لري



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ